**مطبوعاتي اعلاميه**

**د پاکستان رژیم په داسې حال کې د چین په ملاتړ ستونې څېرې کوي چې دا هېواد د ایغور مسلمانانو عقیدې ځپلو ته راپاڅېدلی دی**



**(ژباړه)**

د پاکستان حکام له هغو کسانو سره همغږي او خواخوږي کوي چې له مسلمانانو سره په ښکاره دښمني کوي او دا حاکمان د هغوی پر ظلم چوپ دي او له هغوی سره له دغو خیانتونو سره سره اقتصادي معاملې تر سره کوي. پر دې سربېره د پاکستان حاکمان اوس دومره ذلیل او پست شوي چې د چین د مرستې له اعلان وروسته هغوی له چین سره د ختیځ ترکستان د مسلمانانو د عقیدې پر وړاندې جګړه کې مرسته کوي.

له الجزیرې سره په هغه مرکه کې چې د ۲۰۱۸م د ډیسمبر په ۳۰مه خپره شوه، د پاکستان ولسمشر عارف علوي چین ته له هغو کسانو سره چې په واک کې یې دي د عکس العمل بشپړه وعده ورکړه. هغه مهال چې له ده څخه د ایغور مسلمانانو پر وړاندې د بیجنګ د وحشیانه کړنو په هکله چې له ډېرې مودې راهیسې دوام لري، وپوښتل شول، ویې ویل: «که په کمپونو کې د سلګونه زرو مسلمانانو لاسونه وتړل شي او په خوله کې یې سمنټ واچول شي، بیا به هم د چین ملاتړ کوو.» هغه په بشپړ اطمینان وویل: «که چین مسلمانو ښځو ته د زېږونې اجازه ورنه کړي او مسلمان نارینه عقیم (شنډ) کړي، بیا به هم د چین ملاتړ کوو.» ده په ښکاره له هغه رژیمه خپل ملاتړ اعلان کړ، چې د مسلمانانو پر کورونو یې جاسوسان ګومارلي او په خصوصي حریم کې یې اسلامي قوانین تر پښو لاندې کړي او د جنسیتونو تر منځ یې بېلوالی پیل کړی. ډېرې ورځې تېرې شوې، خو دا مزدور او مکار رژیم بې له هېڅ پښېمانۍ او توبې د ظالمو چینایانو ملاتړ کوي.

له داسې مزدورو حاکمانو څخه چې پر هغه څه حکم نه کوي چې الله سبحانه و تعالی نازل کړي او د هغه په حق کې ظلم کوي، داسې خاینانه دریځ کومه د تعجب خبره نه ده او باید هم همداسې وکړي، ځکه همدا مزدور حاکمان دي چې د مسلمانانو له دښمنانو (کفارو) سره د اړیکو د عادي کولو لپاره شپه او ورځ هڅه کوي که دا دښمن په ختیځ کې که چین وي او یا هم په لویدیځ کې امریکا او روسیه وي او دا ټول مستکبرین او ظالمان دي، چې دغه ذلت او خوارۍ ته یې غاړه ایښې او له کافرانو سره د اړیکو د عادي کولو هڅې کوي، په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ [ممتحنه: ۹]

*ژباړه: بېشکه الله تاسو يواځې له هغو کسانو نه منع کوي چې له تاسو سره يې په دين کې جنګ کړی دی او تاسو يې له خپلو کورونو نه ايستلي يئ او ستاسو په ايستلو کې يې يو له بل سره مرسته کړې ده، دا چې تاسو له دوی سره دوستي وکړئ او هر هغه څوك چې له دوی سره دوستي وکړي، نو همدغه کسان ظالمان دي.*

دا هغه کسان دي چې مظلوم مسلمانان يې په ظلم او بې عدالتۍ کې يوازې پرېښي، په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی فرمايلي دي:

﴿وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ﴾ [الانفال: ۷۲]

*ژباړه: که له تاسو څخه يې په دين کې مرسته وغوښته، بايد له هغوی سره مرسته وکړئ.*

**اې د پاکستان مسلمانانو!** وروسته له دې داسې حاکمان تاسو و نه غولوي، چې په خپل سياسي اقتصادي او نظامي ملاتړ له هغو کسانو سره مرسته کوي، چې زموږ دين او عقيدې ته سپکاوی کوي او زموږ مقدسات تر پښو لاندې کوي. نور بس دي، هغوی ته نه ووايئ! راځئ هغوی داسې پرېږدو لکه موږ يې چې يوازې پرېښي يو او د نبوت پر منهج د خلافت د بیاځل رامنځته کولو لپاره جدي هڅې وکړو. يوازې په همدغه کار کولای شو داسې حاکمان ولرو، چې د اسلامي ځمکو په يووالي سره موږ ته ځواک راکړي، له دې پرته به، له کافرانو او دښمنانو سره د اوسنيو مزدور حاکمانو په دوستۍ او خواخوږۍ تل خوار او ضعيف وو. الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ [نساء: ۱۳۹]

*ژباړه: هغه کسان چې له مومنانو پرته کافران دوستان نيسي، ايا دوی د هغوی په خوا کې عزت لټوي؟ نو بېشکه عزت ټول د الله لپاره دی.*

**د حزب‌التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتی دفتر**

**د صدور شمېره: ۲۰/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربيع‌الثاني ۲۷مه**

**۲۰۱۹م، د جنورۍ ۳مه**